مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوري ۲۰۲۵/۱۲/۱۴

# تعامل که انزوا؟

په نړیوالو اړیکو کې د هېوادونو برخلیک د هغوی د سیاست، چلند او د نړیوالې ټولنې سره د اړیکو د څرنګوالي له مخې ټاکل کېږي. افغانستان چې د څلورو لسیزو جګړو، سیاسي بې‌ثباتۍ او بهرنیو لاسوهنو له امله ډېر زیانمن شوی، نن په داسې پړاو کې ولاړ دی چې تر هر وخت زیات له انزوا څخه وتلو او له نړۍ سره د فعال تعامل کولو ته اړتیا لري. په داسې حساسو شیبو کې یوازې د کورنیو هڅو پر مټ ثبات، اقتصادي رغونه او د خلکو هوساینه ترلاسه کول ډېر ستونزمن کار دي. د اوږدو جګړو، بندیزونو او بې‌اعتمادیو له تېرو تجربو وروسته، اوس هغه وخت رارسېدلی چې هم افغاني اداره د تعامل لپاره عملي او روښانه ګامونه پورته کړي، او هم بهرني هېوادونه د انزوا او فشار پر ځای د مثبت، مسئولانه او واقعي تعامل لوری غوره کړي. نړیوال ملاتړ، پرانیستې لارې، متقابل تفاهم او د اعتماد فضا هغه اړتیاوې دي چې کولی شي افغانستان د ثبات، پرمختګ او د خلکو د هوساینې پر لور بوزي.
انزوا د هر هېواد سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بنسټونه کمزوري کوي او د پرمختګ لارې یې بندوي. هغه هېواد چې د نړیوال نظام له بهیره ګوښه پاتې شي، د اقتصادي فرصتونو، پانګونې، بشري مرستو، علمي تجربو او ټکنالوژۍ له مهمو سرچینو محرومېږي. دا وضعیت د خلکو پر ورځني ژوند ژور او منفي اغېز کوي او حاکمیت له سختو داخلي او بهرنیو فشارونو سره مخامخوي.

افغانستان هم په اوسني وضعیت کې د محدودیتونو، بندیزونو او سیاسي انزوا له کبله له جدي ستونزو سره لاس او ګرېوان دی: اقتصاد کمزوری شوی، بشري وضعیت نازک او د خلکو ژوند له بې‌کارۍ، بې‌وزلۍ او نه‌هیلي ډک دی. دغه شرایط نه یوازې د نظام د ثبات لپاره خطر پېښوي، بلکې د ټول ملت راتلونکی په تیارو کې ننباسي. انزوا په حقیقت کې ستونزې نه حلوي، بلکې لا یې پسې ډېروي او هېواد له نړیوال قافلې وروسته پاتې کوي.

تعامل د هر هېواد لپاره هغه ستره دروازه ده چې له لارې یې اقتصادي فرصتونه رامنځته کېږي، نړیوالې مرستې فعالېږي، د پانګونې لپاره زمینه پراخېږي او د پرمختګ لاره اسانه کېږي. هغه هېواد چې له نړیوالې ټولنې سره پرانیستې او رغنده اړیکې ولري، کولی شي بشري، تخنیکي او اقتصادي ملاتړ جذب کړي، نړیوال باور پیاوړی کړي او د ښوونې، روغتیا، ترانسپورټ او زیربناوو په برخو کې د پام وړ پرمختګونه وکړي.

تعامل نه یوازې د نظام د ثبات لپاره اساسي اړتیا ده، بلکې د خلکو د هوساینې، د اقتصاد د بیا فعالېدو، د کار بازار د پراختیا، د تعلیم او روغتیا د معیاري کېدو او د نړیوالو معیارونو د پلي کېدو لپاره هم محوري اهمیت لري. د تعامل له لارې افغانستان کولی شي د ودې په لوري محکم ګامونه واخلي، خپل نړیوال مقام ټینګ کړي او د مشروعیت، ثبات او پرمختګ پر لور په اعتماد او چټکتیا حرکت وکړي. تعامل په اصل کې د ستونزو د حل، د فرصتونو د پراختیا او د راتلونکي د لارې د روښانه کولو یوازینۍ اغېزمنه لاره ده.

نن نړۍ داسې سره نښلول شوې چې هېڅ هېواد نشي کولی په یوازې ځان خپلې اقتصادي، امنیتي او ټولنیزې ستونزې حل کړي؛ افغانستان ته هم د بشري مرستو، اقتصادي همکاریو، سیاسي مشروعیت، امنیتي همغږۍ او د نړیوالو تجربو د شریکولو په ګډون د نړۍ ملاتړ خورا اړین دی. خو دا ملاتړ هغه وخت اغېزمن تمامېږي چې د هېواد په دننه کې مثبت، اعتماد جوړونکي او واقعي ګامونه پورته شي او نړیواله ټولنه هم په خپلو تګلارو کې انعطاف وښیي. اوسمهال دوامداره محدودیتونه، بندیزونه او دیپلوماتیکه واټن نیونه نه یوازې د افغانستان ستونزې نه کموي، بلکې لا یې ژوروي. د بشري وضعیت خرابېدل، اقتصادي رکود او د خلکو د ژوند د شرایطو نازک کېدل د دې فشارونو مستقیمې پایلې دي. له همدې کبله، نړیواله ټولنه باید د افغانستان په اړه یو متوازن، عملي او د حل لارې موندلو پر بنسټ داسې تګلاره خپله کړي چې ورپکې لاندې اصول بنسټیز ځای ولري:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- **پر اقتصادي سکتور غیرضروري قیودات لرې شي**، تر څو سوداګري او پانګونه بېرته فعاله شي؛
- **بانکي محدودیتونه** لرې یا **نرم شي**، ترڅو د افغانستان مالي سیستم عادي فعالیت وکړي؛
- **د بشري مرستو لېږدول اسانه، شفاف او غیرسیاسي شي؛**
- **د سیاسي تعامل دروازې د خبرو او تفاهم له لارې پرانیستل شي، نه د فشارونو او انزوا له لارې.**

نړیواله ټولنه کولی شي د رغنده تعامل په مټ د افغانستان د خلکو ژوند ښه کړي، د سیمې ثبات ته وده ورکړي، د بېاعتمادۍ فاصلې کمې کړي او د یو با ثباته راتلونکي لپاره زمینه برابره کړي. په ګډو هڅو، مثبتو ګامونو او واقعبینانه تعامل سره افغانستان او نړۍ دواړه ګټه ترلاسه کولای شي.

افغانستان هم باید د اعتماد جوړونې لپاره ګامونه پورته کړي. تعامل یوازې بهرنۍ اړخ نه لري؛ داخلي اصلاحات یې بنسټ دی. د بشري حقونو رعایت، د تعلیم ملاتړ، د اقتصادي قوانینو معیاري کول او د اداري فساد مخنیوی هغه ګامونه دي چې نړیوال اعتماد زیاتوي او تعامل ته زمینه برابروي. که دواړه خواوې د تفاهم، همکاریو او متقابل احترام لاره غوره کړي، نه یوازې افغانستان باثباته کېږي، بلکې سیمه او نړۍ به هم ترې ګټه واخلي.

نور محمد غفوری
10.12.2025


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ